

محب الرحمن « خطيبي »

د نشر نيټه : ۴ اګست ۲۰۱۳ ميلادی

# بيا پی اور مه لګوی

ايرو څخـــــــه جيګ شوی بيا پی اور مه لګوی
د خدای لپاره بس کـــــــی غم پی نور مه لګوی

تباه کړو ګاونډيانو ځـــــــــکه عقل پوهه تللی ده
هوښيار شـــــــی افغانانو په ځان تور مه لګوی

يوبل سره پخلا شی نور د جنګ خبری مه کـوی
دا وران ويـــجاړ وطن باندی نور زور مه لګوی

پنځه ديرش کاله غم دی له وطنه خوښـی تللی ده
ای خلکو جــــګړه مارو بس دی شور مه لګوی

محب وايی هوښيار شی پيغورونه په وطن بس کی
دښمن په مونږه خـــــــــاندی نور پيغور مه لګوی

****

محب الرحمن « خطيبي »

بازګشت به صفحه اصلی - www.said-afghani.org